بسم الله الرحمن الرحيم

# د الفت ویب پاڼې ته ښه راغلاست!

دا ویب پاڼه د افغانستان د پښتو ژبې نامتو شاعر او پیاوړی لیکوال ارواښاد استاد ګل پاچا الفت ته ځانګړې شوېده چې یواځې د الفت صاحب د ژوند، لیکوالۍ او آثارو په اړه معلومات خپروي او یواځې د الفت صاحب اشعار او نثرونه په بشپړ او صحیح ډول د انترنت له لارې محترمو لوستونکو ته وړاندې کوي.

د الفت صاحب د ژوند نه وروسته ځینو لیکوالو او کتاب پلورنځیو، د شهرت او تجارتي ګټو لپاره د الفت صاحب ځینې آثار او کتابونه د دویم یا دریم ځل د پاره چاپ کړیدي، چه دا کتابونه سربیره په املائي او انشائي غلطیو نورې نیمګړتیاوي هم لري او معلومیږي چه اکثراً دا راز کتابونه د ټایپ کولو نه وروسته، بیا ټولونکي یا خپرونکي تصحیح کړي یا حتی لیدلي هم ندي.

نو د دې د پاره چه د مرحوم الفت صاحب آثار او لیکنې له یوې خوا په صحیح او اصلي ډول محترمو لوستونکو ته په آسانی او وړیا توګه وړاندې شي او له بلې خوا د الفت صاحب اصلي آثار خوندي او وساتله شي نو دا ویب پاڼه جوړه او پرانستله شوه او د ټولو لیکوالو او دوستانو نه هیله لرو چې پدی پاڼه کې خپل شخصي لیکنې،څېړنې او مطالب داخل نکړي او ددې پاڼې اصلي ماهیت او کیفیت ته تغیر ورنکړي.په درناوی.

**بریښنا لیک**

webmaster@ulfat.net

**د پوستې آدرس**

Familie Ulfat
Bulkersteig 18 A
45277 Essen
Germany